لوړو زده کړو وزارت
التقوا د لوړو زده کړو موسسه
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
قضاء او څارنوالۍ څانګه

د لیسانس دورې پایلیک

# د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو رول

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: انتظار

لارښود استاد: ننګیالی مصؤن

کال: ۱۳۹۹ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقريظ

ښاغلی انتظار د ګل محمد زوی د التقوا د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ د څانګې فارغ التحصيل چې د (د چاپيريال په ساتنه کې د اسلامي شريعت او نړيوالو ميثاقونو رول) تر عنوان موضوع زما تر لارښوونې لاندې ترتيب کړې، چې په ليکنه کې د معتبرو منابعو څخه استفاده کړې او همدا رنګه ليکنه يې په پښتو ساده او روانه يې ليکلې زه د لارښود استاد په صفت د نوموړي د غه موضوع د مونوګراف لپاره کافي او تاييدوم يې د لا نورو علمي لاسته راوړونو په هيله يې.

ننګيالی مصؤن

د التقوا د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل ګران پلار، قدرمنې مور، ته چې زما د زده کړې په دې لوی کاروان کې

راسره مله وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننليک

مننه او کورودانی له ډېر محترم استاد ننګیالی مصؤن څخه چې له ما سره یې ددې مونوګراف په ترتیب کې پوره مرسته او همکاري وکړه. خپل ډېر ارزښتمن وخت یې ماته وقف کړ، بشپړ لازم او علمي هدایات یې راکړه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلاصه

چاپیریال د ټولو هغو مړو او ژوندیو بیرني عواملو مجموع چې د ژوندیو موجوداتو په ژوند باندي اغېزه کوي د چاپیریال یا محیط په نامه سره یادېږي، چې په دي مجموعه کې هوا ، اوبه، خاوره، نباتات، میاکرو اورګانیزمونه، حیوانات، د لمر روښنایي، تودوخه رطوبت او داسي نور شاملیږي. ککرتیا د هوا ، خاوري یا ځمکې په کیماوي، فزیکي او بیولوژیکي خصوصیاتو او جوړښت کې د انساني فعالیتونو له کبله غیري منلي بدلون چې انسان او ژوندیو په ژوند او د هغوي په ماحول بده اغیزه وکړي د ککړتیا په نامه یادیږي.

ددې موضوع اهمیت دادی چې د ټولنې د وګړو د سالمې روزنې او پرمختګ لپاره د چاپیریال ساتنه مهمه ده او د چاپیریال د ککړتیا پر وړاندې مبارزه ضروري ده ځکه چې په دې اړه اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو ډېر تاکید کړی دی.

د موضوع د لیکلو موخه داده چې په افغانستان کې خلک په دې پوه شي چې د چاپیریال په ساتنه کې اسلامي شریعت او نړیوال میثاقونه ډېر رول لري.

ددې موضوع کړنلاره کتابتوني ده او د هغه ماخذونو څخه په کې استفاده کړې چې د چاپیریال ساتنې په اړه لیکل شوي.

ددې موضوع څخه دا پایله اخلو چې د چاپیریال ساتنه د هر شخص لپاره یوه لازمي خبره ده او هغه موارد او موضوعاتو باندې ځان پوه کړي چې اسلامي شریعت د چاپیریال لپاره وضع کړي، خو په ضمن کې نړیوالو میثاقونو هم د چاپیریال په ساتنه ډېر تاکید کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

سریزه........................................................................................................................ ۱

لومړی فصل

د چاپیریال، اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو پېژندنه

لومړی مبحث: د چاپیریال پېژندنه.................................................................................. ۵

لومړی مطلب: د اسلامي شریعت له مخې د چاپیریال پېژندنه..................................... ۵

لومړی جز: د چاپیریال لغوي تعریف.............................................................................. ۵

لومړۍ فقره: په یو ځای باندې مستقر کېدل او یو ځای اشغالول................................ ۵

دویمه فقره: ژوند:............................................................................................................ ۶

دویم جز: د چاپیریال اصطلاحي معنی.............................................................................. ۶

دریم جز: د چاپیریال ساتنې معنی.................................................................................... ۷

دویم مطلب: د افغانستان د نافذه قوانینو له مخې د چاپیریال پېژندنه.......................... ۷

دویم مبحث: د اسلامي شریعت پېژندنه، منابع او خصوصیات....................................... ۹

لومړی مطلب: د اسلامي شریعت پېژندنه......................................................................... ۹

دویم مطلب: د اسلامي شریعت منابع............................................................................... ۹

دریم مطلب: د اسلامي شریعت خصوصیات..................................................................... ۱۲

دریم مبحث: د نړیوالو میثاقونو پېژندنه......................................................................... ۱۳

دویم فصل

د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو رول

لومړی مبحث: د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت رول..................................... ۱۵

لومړی مطلب: په اسلام کې د چاپیریال ساتنې لارې چارې.......................................... ۱۷

دویم مطلب: په اسلام کې د چاپیریال ساتنې اړوند اقدامات......................................... ۱۹

څلورم مطلب: د ځمکې ککړتیا د مخنیوي په اړه د اسلامي شریعت دریځ.................. ۲۴

دویم مبحث: د چاپیریال په ساتنه کې د نړیوالو میثاقونو رول..................................... ۲۵

لومړی مطلب: د ملګرو ملتونو د چاپیریال ساتنې سازمان............................................ ۲۶

دویم مطلب: په جنګي برخه کې د چاپیریال ساتنې نړیوال معاهدات........................... ۲۹

پایله........................................................................................................................... ۳۱

وړاندیزونه................................................................................................................... ۳۲

ماخذونه...................................................................................................................... ۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمد لله و الصلوة و السلام علی عباده الذین اصطفی.
امابعد:

(اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ)(۱)

ژباړه: بېشکه الله تعالی خوښوي بیا بیا توبه ایستونکي (له ګناهونو څخه) او خوښوي ځان ساتونکي (له پلیتیو څخه).(۲)

اسلامي شریعت د ژوند چاپیریال حقوقو لومړنۍ او مهمه منبع ده د اسلام مبارک دین د چاپیریال د پاک ساتلو لپاره ځینې قواعد وضع کړي دي د قرآن عظیم الشان زیات شمېر ایاتونه همدې مسئلې ته اشاره کوي.

همدارنګه ژوند د چاپیریال حقوقو په اړه باید ووایو چې د ژوند چاپیریال حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده چې د ژوند چاپیریال پاک ساتنې او د انسانانو اړیکې د ژوند له چاپیریال سره ترتیب او تنظیموي. یا په بل عبارت د ژوند د چاپیریال حقوق په ټولو هغو قواعدو، مقرراتو، اصولو او نورمونونو اطلاق کېږي چې د فرد او چاپیریال ترمنځ اړیکې تنظیموي. د چاپیریال ساتنې او تحفظ موضوع د هېوادونو په قوانینو کې هم ځای پرځای شوي دي د نوموړي موضوع د اهمیت له پلوه ده چې د هېواد د اساسي موضوعاتو په قطار کې د چاپیریال ساتنه هم په اسلامي شریعت کې ذکر شوې ده. نو همدې مطلب ته په کتو مې نړیوالو میثاقونو د چاپیریال ساتنه باندې تاکید کړی دی. هغه تګلاره ده چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره د عقایدو، عباداتو، اخلاقو، راکړه ورکړه، ریاست، اداره، اقتصاد، او داسې نورو کې د ژوند پورې مربوط ټولو شیانو کې ترتیب کړي دي ترڅو د دغه لوېې لارې په تللو سره د دنیا او اخرت د عزت څښتن شي.

---

[۱] قرآن کریم [سورت البقره ۲۲۲ ایت]

[۲] محمود الحسن دیبوندي او شبیراحمد عثماني. (۱۴۱۴هـ). کابلی تفسیر. جلد اول، د افغانستان د جیدو علماوو ژباړه، د فهد بن عبدالعزیز د قرانکریم چاپخانه مدینه منوره، ص۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع ستونزه**

د موضوع ستونزه داده چې زياتره خلک په قصدي ډول د چاپيريال ککړتيا توجه نه کوي او هغه څه چې چاپيريال خرابوي هغه کړنې ترسره کوي.

**د موضوع د انتخاب لاملونه**

دا چې زمونږ د ټولنې د خلکو تعليمي کچه کمه ده نو د نړيوالو ميثاقونو د موضوعاتو څخه ناخبره ده.

زمونږ په ټولنه کې وګړي د چاپيريال په ساتنه کې بې غوري کوي او سمه توجه ورته نه کوي.

هغه موضوعات چې د چاپيريال د ساتنې په اړه اسلامي شريعت وضع کړي دي د هغې په اړه پوهاوی نه لري.

**د موضوع اهميت:**

١. چاپيريال د انسانانو يو له لومړنيو حقوقو له جملې څخه ګڼل کېږي. او د ژوند چاپيريال د ژوند لپاره يو مهم عنصر دی هغه څه چې په چاپيريال کې دي د انسانانو د ژوند لپاره مهم دي او په دې موضوع ليکنه کول ځکه ډېر اهميت لري چې اسلامي شريعت د چاپيريال د ساتنې لپاره احکام وضع کړي دي.

٢. هغه څه چې په نړيوالو ميثاقونو کې د چاپيريال په اړه راغلي دي هغه هم د پلي کېدو وړ دي ځکه چې په دې اړه يې د هغه موادو يادونه کړې چې د چاپيريال د ککړتيا څخه پرې ځانونه ژغورلای شو.

٣. ددې موضوع اهميت دادی چې په پاک او صفا چاپيريال کې انسانان سالم ژوند کولای شي او د مرضونو څخه ژغورل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع هدف:**

د دې موضوع د لیکنې څخه لاندې موخې لرم:

۱. د چاپیریال ساتنې پېژندل.

۲. د اسلامي شریعت احکام واضح کول چې د چاپیریال په اړه دي.

۳. د لیسانس دورې د وروستي شرط پوره کول.

۴. همدارنګه د هغه موضوعاتو څخه یادونه چې نړیوالو میثاقونو وضع کړي دي.

**پخوانیو لیکنو ته کتنه**

د اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو رول په چاپیریال ساتنه کې خورا اړین دی چې په دې اړه مو د یو شمېر معتبرو مراجعو څخه استفاده کړې. دا چې افغانستان یو له هغه هېوادونو څخه دی چې په دې وروستیو کې یې په افغانستان کې د چاپیریال ککړتیا ډېره شوې چې د همدې ستونزې د حل لپاره مو نوموړې موضوع لیکلې ترڅو په ټولنه کې وګړي پرې پوه شي.

**د موضوع اړوند پوښتنې**

د دې لیکنې په پای کې به د لاندې پوښتونو ځوابونه ومومئ:

۱- د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت رول څه شی دی؟

۲- د چاپیریال په ساتنه کې د نړیوالو میثاقونو رول څه شی دی؟

۳- د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت سره د نړیوالو میثاقونو تفاوتونه څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع کړنلاره

۱. نوموړې موضوع کتابتوني بڼه لري.

۲. د موضـوع پـه پیـل کـې خلاصـه، سـریزه او لیکلـړ وجـود لـري ددې لپـاره چـې لوستونکو ته اسانوالی پیداشي.

۳. په موضوع کې مو د یو شمېر ایتونو او احادیثو څخه هم استفاده کړې چې هغه مـو په سمه توګه راوړي دي.

۴. د موضوع په پای کې مـو پایلـه یـا نتیجـه ذکـر کـړې او د هغـه ماخذونو څخـه چـې استفاده شوې هغه مو په پای کې د یو فهرست په توګه راوړي دي.

۵. په موضوع کې مې د یو شمېر ایتونو او نبوي احادیثو څخـه اسـتفاده هـم کـړې چـې قرآني ایتونه مې د مشکول قرانکریم څخه رانقل کړي او نبوي احادیث مـې د اعرابـو سـره سـم راوړي دي. چـې د نبـوي احـادیثو لپـاره مـې ماخذونـه پـه لمـن لیـک کـې ورکړي دي.

## د موضوع حدود

دا چې د چاپیریال ساتنه او ککړتیا یوه لویه موضوع ده او په دې اړه ډېر موضوعات شتون لري نو ما په دې موضوع کې هغه څه راوړي چې زمـا د موضـوع پـورې اړه لـري چـې هغـه د اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو رول د چاپیریال په ساتنه کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## د چاپیریال، اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو پېژندنه

په دې فصل کې درې مباحث ذکر کوم چې په لومړي مبحث کې د چاپیریال پېژندنه، په دویم مبحث کې د اسلامي شریعت پېژندنه او په دریم مبحث کې د نړیوالو میثاقونو پېژندنه.

### لومړی مبحث: د چاپیریال پېژندنه

د چاپیریال په اړه د پوهانو علماوو له لوري بېلابېل تعریفونه شوي چې تقریباً د ټولو معنی او مفهوم سره ورته او نږدې دی، یعنې چاپیریال هر هغه څه ته وايي چې بشر يې احاطه کړی وي که هغه جمادات دي لکه: اسمانونه، ځمکې، غرونه، سیندونه، درې، خاوره، اوبه، هوا، ګازونه او که حیوانات وي لکه: څاروي، الوتونکې، ژوې، همدارنګه نباتات لکه: ګیاوې، ګلونه، شنه شیان، ونې، بوټې او نور چې انسان يې احاطه کړي وي.[1]

### لومړی مطلب: داسلامي شریعت له مخې د چاپیریال پېژندنه

#### لومړی جز: د چاپیریال لغوي تعریف:

چاپیریال ته په عربي ژبه کې (بیئه) وایي چې (بیئه) د (تبواء) صیغه ده چې دا کلمه په لاندې معنی ګانو کارېدلې ده.

#### لومړی فقره: په یو ځای باندې مستقر کېدل او یوځای اشغالول:

لکه عربان وايي (تبواء بالمکان) معنی دا چې په ځای باندې يې خپل ځای اشغال کړ. یعنې ځای يې ونیولو یعنې په هغه ځای کې يې اوسېدل پیل کړل لکه په قران کریم کې هم الله تعالی فرمايلي دي:

---

[1] نورانور فاروقي.(۱۳۹۷). د چاپیریال ساتنې حقوق. مسلم خپرندویه ټولنه -جلال اباد. ص۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(وَ الَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَ الْإِيْمَانَ)(١)

ژباړه: (او هغه له هغو خلکو لپاره هم دی) چې د دغو مهاجرینو له راتګ نه مخکې یې ایمان راوړی.(٢)

نو په دې ایت کې هم د تبواء د کلیمې معنی ځای ورکول دي.(٣)

## دویمه فقره: ژوند:

او سیدل، ژوند کول او عمر تېرولو ته وايي. فرهنګ عمید لیکلي چې د دې کلیمې مصدر په دري ژبه کې زندګاني یعنې ژوندون کول دي.(٤)

همدارنګه ژوند عمر ته هم ویل کېږي نو د ژوندانه چاپیریال هر هغه ځای سیمې او چاپیریال ته ویل کېږي چې په هغه کې ژوند وجود ولري او عمر په کې تېر شي. یا په بل عبارت د ژوند چاپیریال د ټولنیزو، فزیکي، فرهنګي، کلتوري او عقیدوي شرایطو مجموعې ته چې په هغه کې د ژوندیو موجوداتو ژوند تامین او متاثره کېږي د چاپیریال په نامه یادېږي. د ژوند چاپیریال هغه چاپیریال ته ویل کېږي چې انسان په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د هغه سره اړیکه لري او د ژوند فعالیتونه د هغه سره تړاو لري. د ژوند چاپیریال د انسانانو یو له لومړنیو حقوقو له جملې څخه ګڼل کېږي ترڅو د ښه چاپیریال په لرلو سره په سلامتۍ او د هوساینې په فضا کې د خپلو نورو حقوقو څخه ګټه پورته کړي.

## دویم جز: د چاپیریال اصطلاحي معنی

چاپیریال زمونږ شا او خوا ټولو موجوداتو ته چاپیریال ویل کېږي، یا د محیط یوه احاطه ده چې یو سازمان یا تشکیل په کې فعالیت کوي چې په هغه کې هوا، اوبه، طبعي سرچینې، فلورا (نباتات)، فونا (حیوانات)، انسانان او د هغوي تر منځ متقابلې اړیکې

---

[١] الحشر، ایت٩

[٢] سید ابو الاعلی مودودي، (١٣٢٠). تفسیر تفهیم القران. ژباړن: قیام الدین کشاف. پېښور: جماعة الدعوه، ج٥ص٥٥٢

[٣] احمد مختار عبد الحمید عمر، (٢٠٠١م). معجم اللغة العربیة المعاصره. عالم الکتب، قاهره. ج١ ص٢٥٨.

[٤] عمید حسن. (١٣٧٢). فرهنګ عمید یو جلده. انتشارات امیر کبیر تهران. ص٧٤٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاملیږي. اجتماعي، فزیکي، فرهنګي، کلتوري او عقیدوي شرایطو مجموعې ته چې په هغه کې د ژوندیو موجوداتو ژوند تامین او متاثره کیږي د چاپیریال په نامه یادیږي.[1]

### دریم جز: د چاپیریال ساتنې معنی

چاپیریال هر هغه څه ته وایي چې بشر یې احاطه کړي وي. که هغه جمادات دي لکه: اسمانونه، ځمکې، غرونه او نور... همدارنګه د چاپیریال حقوق د هغه قواعدو او پرنسیپونو له مجموعې څخه عبارت دي چې د انسانانو د فعالیتونو او کړنو تاثیر پر چاپیریال باندې تر څېړنې لاندې نیسي او ترڅنګ یې د چاپیریال پورې تړلو مهمو مسایلو څخه بحث کوي. یا دا چې د چاپیریال ساتنې حقوق د یو لړ اصولو او قواعدو مجموعه ده چې د چاپیریال د عناصرو د ساتنې په موخه رامنځته کېږي او ټول هغه انساني فعالیتونه محدودوي او یا یې له منځه وړي چې چاپیریال تخریبوي.[2]

### دویم مطلب: د افغانستان د نافذه قوانینو له مخې د چاپیریال پېژندنه

د افغانستان د چاپیریال ساتنې قانون د چاپیریال تعریف په لاندې ډول کړی دی:

(د ژوند چاپیریال د طبیعي سرچینې، د طبیعي سرچینو داجزاوو ترمنځ یا د نوموړو اجزاوو او انسانانو او حیواناتو ترمنځ تعاملات، فزیکي، فرهنګي، تزئیني (ښایسته کول)، خواص یا شرایط دي چې د هغو روغتیا او سلامتیا اغیزې لاندې راولي).[3]

د پورته تعریف څخه لاندې مهم ټکي لاسته راځي:

۱- د بشري، حیواني او نباتي روغتیا ساتل او د هغو د معشیت د وضعې ښه کول.

۲- د ایکولوژیکي کړنې او د هغې د بشپړتیا تامینول.

۳- د ژوند د چاپیریال سره تړلې د اوسنې او راتلونکې نسل د ګټو او اړتیاوو تامینول.

---

[1] خدایداد. کوچی، (۱۳۹۵). چاپیریال ساتنه. جلال اباد: سلام خپرندویه ټولنه. ص۲.

[2] نورانور. فاروقي، د چاپیریال ساتنې حقوق. ص۹

[3] د عدلي وزارت رسمي جریده. (۱۳۸۵). د ژوند چاپیریال قانون، پرلپسې ګڼه: (۹۱۲). کابل: دولتي مطبعه. ۴ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د طبیعي او فرهنګي میراثونو ساتل.

په افغانستان کې د ژوند چاپیریال قانون د چاپیریال حقوقو یوه بله مهمه سرچینه ده نوموړې قانون د اساسي قانون د ۱۵مادې په رڼا کې د ۷۸مادو او ۹ فصلونو په درلودلو سره تصویب او د ۲۴مادې د ۱۲ فقرې په اساس د ۱۳۸۵المریز کال د قوس د میاشتې په ۱۵ نېټه د جمهور رئیس له لوري توشیح شوی او فعلاً نافذ دی. چې د نوموړې قانون د ۲ مادې له مخې یې موخې په لاندې ډول دي:

ددې قانون عمده موخې عبارت دي له:

۱.دبشري، حیواني اونباتي روغتیاساتل اودهغو معیشت دوضعې ښه کول.

۲.دایکولوژیکي کړنې اودهغې دبشپړتیا دیون تآمینول.

۳.دژوندله چاپیریال سره تړلې (مرتبط )داوسني اوراتلونکي نسل دګټواو اړتیااوو تآمینول.

۴.دطبیعي اوفرهنګي میراثونو ساتل.

۵.دبیاجوړونې په کارکې آسانوالی اودملي اقتصاد دوامداره وده.[۱]

---

[۱] د ژوند چاپیریال قانون، دویمه ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم مبحث: د اسلامي شریعت پېژندنه، منابع او خصوصیات

په دې مبحث کې درې مطالب دي چې په لاندې ډول دي:

### لومړی مطلب: د اسلامي شریعت پېژندنه

هغه تګلاره ده چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره د عقایدو، عباداتو، اخلاقو، راکړه ورکړه، ریاست، اداره، اقتصاد، او داسې نورو کې د ژوند پورې مربوط ټولو شیانو کې ترتیب کړي دي ترڅو د دغه لویې لارې په تللو سره د دنیا او اخرت د عزت څښتن شي.(۱)

### دویم مطلب: د اسلامي شریعت منابع

اسلامي شریعت د ظهور او پیدا ایښت پړاو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوي رسالت ټوله دوه په بر کې نیسي، دغه پړاو د لومړۍ الهي وحې (اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ)(۲) ژباړه: ولوله (ای محمده ! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چې پیدا کړي یې دي (مخلوقات)(۳) په کلمې سره پیل او د قران په وروستي ایت (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا)(۴) ژباړه: نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسې ته دین ستاسې (اصولاً او فروعاً) او تمام (پوره مې کړ پر تاسې (ای مؤمنانو !) نعمت (د دین په اکمال) او غوره مې کړ ما تاسې ته اسلام له جهته د دین (ډېر پاکیزه په ټولو ادیانو کې)(۵) سره پای مومي.(۶) په دغه دوره کې د اسلامي شریعت اساس او بنسټ

---

۱ شمس الاسلام شمس صافي. (۱۳۹۸ل). د اسلامي حقوقو اساسات. لومړی ټوک، مسلم خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ص۳۲.

۲ سورت العلق، ایت۱

۳ شبیر احمد عثماني او محمود الحسن. کابلی تفسیر دویم ټوک ص ۱۷۳۳.

۴ سورت الانعام، ایت ۳

۵ کابلی تفسیر ج۱ص۵۹۲

۶ عبدالرؤف ننګیال، (۱۳۹۳). د اسلام حقوقي نظام.. مستقبل خپرندویه ټولنه – کابل. ص۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن او نبوي سنتو ولاړ و ، قرآني احکام به په اجمالي توګه نازلیدل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه به په تفصیلي توګه خلکو ته بیان کېدل.[1]

د اسلامي شریعت بنسټ د الله تعالی وحې ګڼل کېږي چې په قران او محمدي سنتو کې یې ښودنه شوې ده، په دغه دوه سرچینو کې د نوي قانون ټولې انواعې لکه اساسي قانون، سوداګریز قانون د نړیوالو قوانینو جزاګاني او د نورو قوانینو ځانګې پیدا کولای شو[2] چې دلته غواړو لومړی د وحې پېژندنه په قرانکریم او نبوي سنتو کې وړاندې کړو.

وحیی په لغت کې د کتابت، پیغام، اشارې، الهام او پټې خبرې په معنی استعمالیږي. عرب وایي: وحي إلیه الکلام یحیه، وحیاً، و أوحی ( و هو أن یکلمه بکلام یخفیه ) ، و "وحی" و "أوحی" ایضاً أی کتب.[3]

یعنې: پټه خبره یې ورته وکړه، یا لیکنه یې وکړه. [4]

که د قرآن کریم آیاتونو او د رسول الله صلي الله علیه وسلم په احادیثو کې غور او فکر وکړو نو دا راته جوتیږي چې د الله تعالی له خوا ملائکو ته وحیی پرته د کومې واسطې څخه صورت نیولی دی. الله پاک فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ...﴾[5].

((او یاد کړه "ای محمده" هغه وخت چې وویل رب ستا ملایکو ته چې زه ګرځوونکې (پیدا کونکې) یم په ځمکه کې د یوه خلیفه، نو ملایکو وویل: ایا ګرځوې (پیدا کوې) ته په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوي پدې کې او تویوي به (په ناحقه سره) وینې، حال دا

---

[1] حامد انصاري. (۱۴۳۰). د اسلام حکومتي نظام. ژباړن: صافی، حبیب الله. پیغام خپرندویه مرکز – پېښور. ص۲۴

[2] سید عنایت الله شاداب. (۱۳۹۵). د اسلامي حقوقو بنسټونه. مستقبل خپرندویه ټولنه – کابل. ص۱۰۸.

[3] إبراهیم محمد الجرمي، (۱۴۲۲هـ). معجم علوم القرآن دار القلم، دمشق، اول چاپ یو جلده. (۱/ ۳۱۸ )

[4] عبدالغفار صافی، (۱۳۹۷). قرآن پوهنه، سلام خپرندویه ټولنه – جلال اباد. ص۹

[5] البقرة:۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مونږ تسبیح وایو ستا سره د ثنا ستا او نسبت د پاکۍ کوو تا ته)).[1]

دغه راز د رسول الله صلي الله علیه وسلم د احادیثو څخه هم دا جوتیږي. چې الله پاک ملایکو ته وحیی بې له واسطې کړې ده:

عن النواس بن سمعان (رضي الله عنه) قال: قال رسول الله صلي الله علیه وسلم: إذا أراد الله تعالی أن یوحي بالأمر تکلم بالوحي، اخذت السماوات منه رجفة شدیدة خوفاً من الله عز وجل، فإذا سمع ذلک أهل السماوات صعقوا و خروا لله سجدا، فیکون أول من یرفع رأسه جبریل، فیکلمه الله من وحیه بما أراد، ثم یمر جبریل علی الملائکة کلما مر بسماء سأله اهله: ما ذا قال ربنا یا جبریل؟ فیقول جبریل: قال الحق و هو العلي الکبیر. فیقول کلهم مثل ما قال جبریل، فینتهي جبریل بالوحي إلی حدیث أمره الله عزوجل.[2]

((د نواس بن سمعان (رضي الله عنه) څخه روایت دی، وایي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې الله (جل جلاله) د یو کار اراده وکړي نو د هغې په هکله وحیی کوي، نو د الله تعالی د ډار له کبله اسمانونه په لړزېدو شي، کله چې د اسمان اهل دغه حالت واوري، نو ټول بې هوشه الله پاک ته په سجده پرېوځي، اول کس چې خپل سر راپورته کوي، هغه جبریل (علیه السلام) دی، نو الله پاک ورسره په وحیی سره خبرې وکړي، بیا چې جبریل په هر اسمان تیریږي. د هغې اسمان ملایکې ورڅخه پوښتنه کوي چې: زمونږ پروردګار څه فرمایلي دي؟ جبریل ځواب ورکوي چې: الله تعالی حق ویلي دي او هغه تر ټولو لوړ او لوی ذات دی، نو ټولې ملایکې ورسره هم دغه خبره تکرار کړي. بیا جبریل (علیه السلام) هغه ځای ته په وحیی سره تګ کوي چې الله تعالی ورته امر کړی وي)).

---

[1] محمود الحسن او شبیر احمد عثماني. کابلی تفسیر ج۱ص ۲۳.
[2] زرکشي محمد بن عبدالله بدرالدین بهادر (۱۴۰۲هـ). البرهان فی علم القرآن. بیروت، داراحیاء التراث العربی. ج۲ص:۲۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مطلب: د اسلامي شریعت خصوصیات

د اسلامي شریعت خصوصیات په لاندې ډول دي:

۱- د اسلام د دین د عمل ساحه پراخه ده، ځکه دین نه یوازې د شخص اړیکې له شخص سره تنظیموي، بلکې د شخص اړیکې له ځان او خپل خالق سره هم تنظیموي. د اسلام دین د ژوندانه بشپړ نظام دی، په دغه دین کې له عقایدو، اخلاقو، حقوقو او مجاملاتو څخه بحث شوی او د ژوند په ټولو برخو کې لارښوونې لري چې خپل پیروان د هغې پیروۍ ته رابولي.[۱]

۲- د اسلام له دین پرته په نورو ټولو دینونو کې لاس وهنې شوې دي، حقایق یې تحریف شوي، چې د سلیم عقل یو خاوند هم د هغو د ډېرو محتویاتو په ریښتینوالي باور نشي کولای، تر اسلام مخکې د اسماني دینونو تر ټولو وروستی د مسیحیت دین دی، چې ددغه دین ډېر او یو له بل سره مخالف انجیلونه بې له شکه انسان باوري کوي چې دغه دین تحریف شوی دی، خو د اسلام دین چې د الله تعالی له خوا تر ټولو اسماني دینونو وروستی نازل شوی دین دی او احکام یې د قران کریم او نبوي سنتو په شکل موجود دي، د نړۍ د ټولو مؤرخینو په اتفاق سره تر ټولو محفوظ او د اعتبار وړ نصوص شمېرل کېږي.

۳- د اسلام حقوقي قواعدو خپل مشروعیت نه یوازې له عیني واقعیاتو لاسته راوړي لکه څرنګه چې د طبیعتي حقوقو د مکتب پیروان یې فکر کوي او نه دغه مشروعیت د عملي عقل له دستوراتو څخه ترلاسه کوي یه هغه توګه چې د عقلي حقوقو مکتب یې وایي او نه یې هم په هغه ډول چې څېړنیز او تجربه کوونکي مکتب حقوقي قواعد د قراردادي او اعتباري په نامه پېژني.

۴- د اسلام حقوقي قواعد دوه اړخیز مزدوج ماهیت لري یعنې (اعتباري – واقعي) ماهیت لرونکی، اعتباري ځکه دي چې د الله تعالی ارادې معتبر ګڼلی او واقعي له دې اړخه دي چې د الله تعالی تشریعي اراده تکویني ارادې نږدې ته ده نو د اسلام کوم قوانین چې د پېښنو مصالحو او مفاسدو په اساس ولاړ وي هغه واقعي دي.[۲]

---

[۱] عبدالصبور. مبارز، (۱۳۹۲). د اساسي قانون پېژندنه، سلام خپرندویه ټولنه – جلال اباد. ص۱۷

[۲] هماغه: سید عنایت الله.شاداب. د اسلامي حقوقو بنسټونه، ص۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مبحث: د نړیوالو میثاقونو پېژندنه

نړیوال میثاقونه په دې توګه تعریفوو:

نړیوال میثاقونه عبارت له: معاهده، نړیوال هوکړه لیک، نړیوال کنوانسیون، منشور او پروتوکول څخه عبارت دي.[۱] چې هر یو په لاندې ډول تشریح کوو:

معاهده هغه توافق دي، چې د دولتونو تر منځ په سیاسي او نظامي برخو کې په لیکلې توګه منعقـــد بړي او د نړیوالو حقونو د قواعد لرونکې وي.

نړیوال هوکړه لیک: دوه اړخیز یا څو اړخیز توافق دي، چې په لیکلې توګه په اقتصادي، کولتوري او علمي برخو کې د دولتونو تر منځ منعقـــد بړي او د نړیوالو حقونو د قواعدو لرنکي وي.[۲]

نړیوال میثاق (کنوانسیون): نړیوال تقنیني سند دي، چې د نړیوالو سازمانونو له لوري ترتیب او د نړیوالو حقونو د بنسټیزو قواعدو لرنکي وي.

منشور: د یوه نړیوال سازمان د تاسیس تقنیني سند دي، چې د یاد سازمان د اصولو، موخو، د واکونو د حدودو، تشکیلانو او فعالیت د ډول لرونکي وي

پروتوکول: هغه تقنیني سند دي، چې د یوې معاهدې د بشپړتیا، تفسیر یا تعدیل په موخه له معاهدې یا نړیوال میثاق سره ضم کېږي.

تړون د نړیوالو حقوقو د تابعانو یا وګړو ترمنځ هر ډول کتبي لاسلیک شوی توافق دی په دې شرط چې د نړیوالو حقوقو د مقرراتو سره سم تنظیم شوی وي او د غه مقررات پر هغه توافق باندې حاکم وي او په پایله کې مشخصې حقوقي اغیزې رامنځته کړي.[۳]

غواړو په دې ځای کې د معاهداتو پېژندنه د اسلام له نظره هم وکړو.

معاهدات عبارت له هغه میثاقونو، تعهداتو او اتفاقیاتو څخه دي چې اسلامي هېواد یې د غیر اسلامي هېوادونو سره د جنګ او صلحې په حالت کې امضاء کوي، د جنګ په

---

[۱] محمد خلیل شینواری. (۱۳۹۸).د افغانستان په حقوقي نظام کې د تقنیني اسنادو تصویب، ستونزې او حل لارې یې. ص۲۵.

[۲]- د افغانستان اسلامي جمهوریت، د تقنیني اسنادو د انفاذ او خپراوي د ډول قانون، (۱۳۹۵ل). پرله پسې ګڼه:(۱۲۴۲) ۳یمه ماده.

[۳] محمد رضا ضیایي. بیګدلي، (۱۳۹۲ل). نړیوال عمومي حقوق، ژباړن: حکیمزی، حسیب الله. مستقبل خپرندویه ټولنه–کابل، ص۸۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت کې معاهدې ته موادعه، مصالحه او مسالمه ویل کېږي چې د دې په مقتضی سره د جنګ پرېښودل او صلحه منځته راځي.[۱]

بین المللي معاهدې هغه موافقت نامې دي چې د عمومي بین المللي حقوقو د دوو یا څو شخصیتونو( افرادو/ دولتونو/ نړېوالو سازمانونو ) لخوا په یوه معینه ساحه کې د یوې پابلې د لاسته راوړلو لپاره منعقد کېږي.

باید یادونه وکړو چې معاهدات یوازې په هغو هیوادونو کې لازم الاجراء دي چې لاسلیک کړي او تصویب کړي یې وي. ؛ خو د دې ترځنګ داسې استدلال هم شتون لري چې معاهدات په هغو دولتونو کې هم د اجراء وړ دي چې لاسلیک کړي یې نه وي، د دې نظر د پېروانو دلیل دادي چې د زیات شمېر هیوادونو له لورې پر یوه پرنسیپ سلاح او منښته پراخ مشروعیت رامنځته کوي؛ د کوم لمخې چې د بین المللي حقوقو په ډګر کې یو ټولغوښتي حالت حمایه او تضمینېږي، لکه د ټولوژني/عام قتل د جرایمو د مخنیوي او مجازاتو پېمان، چې په ۱۹۴۸ میلادي کال کې د ۱۴۰ هیوادونو له لورې رامنځته، لاسلیک او تصویب شو.

هماغه وو چې د همدې قوي مشروعیت د استدلال لمخې عملاً د هغو هیوادونو د عام قتل عاملین هم د ټولوژني پر ضد بین المللي محکمې( نړېوالې جنایي محکمې ) ته راکش شوي، محاکمه شوي او مجازات شوي دي، چې نه یې دا میثاق لاسلیک کړي وو او نه یې تصویب کړاي وو.[۲]

---

[۱] محمد مصطفی نیازی، (۱۳۹۲ل). نړیوال معاهدات (د اسلامي فقهې او نړیوالو اصولو په رڼا کې). مسلم خپرندویه ټولنه– جلال اباد. ص۱۴.

[۲]- محمد رضا ضیایی. بیګدلي، (۱۳۸۷ل). حقوق معاهدات بین المللي. ۳۳ چاپ، نشر ګنج دانش: تهران، ایران. ص ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل

## د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت او نړیوالو میثاقونو رول

په دې فصل کې دوه مباحث دي چې په لومړي مبحث کې د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت رول او په دویم مبحث کې د چاپیریال په ساتنه کې د نړیوالو میثاقونو رول چې په لاندې ډول دي:

### لومړی مبحث: د چاپیریال په ساتنه کې د اسلامي شریعت رول

په دې مبحث کې په اسلام کې د چاپیریال ساتنې اقدامات، په اسلام کې د چاپیریال ساتنې لارې چارې دي چې په لاندې ډول دي:

اسلامي شریعت د ژوند چاپیریال حقوقو لومړنۍ او مهمه منبع ده د اسلام مبارک دین د چاپیریال د پاک ساتلو لپاره ځینې قواعد وضع کړي دي د قرآن عظیم الشان زیات شمېر ایاتونه همدې مسئلې ته اشاره کوي. الله تعالی فرمایي:

(اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ)[1]

ژباړه: بېشکه الله تعالی د توبه ویستونکو او نظافت ساتونکو سره مینه کوي.

همدارنګه په یو بل ایت کې هم د چاپیریال او پاکۍ مسئلې ته پاملرنه شوې ده. الله تعالی فرمایي:

(اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ)[2]

ژباړه: الله تعالی له اسمان څخه اوبه رالېږي، ددې لپاره چې تاسې پرې خپل ځان پاک کړئ.

---

[1] سورت البقره ۲۲۲ایت

[2] سورت الانفال، ایت۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه قـرآن عظـيم الشـان ور اخـوا نبـوي احـاديثو هـم د ژونـد د چاپيريـال موضـوع تـه پاملرنه کړې ده او انسـانان يې مکلف ګرځولي دي چې د ژوندانه چاپيريال تـه پـامنيوى وکړي. د بېلګې په توګه په يو حديث کې راغلي دي:

(عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ)([1])

ژباړه: د ابي مالک الاشعري رضي الله عنه نه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پاکي د ايمان يوه برخه ده.

همدارنګه په بل حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ»)([2])

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنـه نـه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هـر مسـلمان چې نيـالګي کېنـوي او يـا کښـت وکـري نـو لـه هغـه نـه الوتونکي (حشرات او مرغان) يا انسان او يا ښاروي څه وخوري، نو هغه بـه دده لپـاره صدقه وي.

لـه پورتـه ايتونـو او احـاديثو څخـه دا پـه لاس راځـي چې د اسلام مبارک ديـن يـو ټولشموله او هـر اړخيـزه ديـن دى چې د چاپيريـال برابرولـو او تنظيم لپـاره يې اصـول او قواعد وضع کړي دي.([3])

---

[1] ابو عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري. (۱۴۲۱). صحيح البخاري بيروت: دارطوق النجاة، ج۱ص۲۰۳.

[2] صحيح البخاري ج۳ص۱۰۳

[3] عبدالجلال. مقيم، د ژوند چاپيريال حقوق. ص۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی مطلب: په اسلام کې د چاپیریال ساتنې لارې چارې**

د اسلام سپیڅلي دین له نظره چاپیریال ساتنه دانسان له دندو څخه شمیرل کیږي چې په ساتنه او حفاظت یې زیات ټینګار شوی دی.

۱- اسلام د چاپیریال د اساسي عناصرو د ساتنې او یو مسلمان او سیدونکي د دندې په اړه ارزښتاکه اصول او کلیات وضع کړي دی ، او په ځمکه او چاپیریال کې له فساد سره د مبارزې لپاره یې ځانګړي اسالیب ښودلی دی.

الله تعالی د فساد کوونکو د فساد بیلګه بیان کړې او دا اعلان یی کړی چې الله تعالی له دوی سره محبت او مینه نه لري.

(وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ)[1]

ژباړه: (کله چې راوګرځي هڅه کوي چې په ځمکه کې فساد وکړي ، او کښت او نسلونه تباه کړي او الله تعالی فساد کوونکي نه خوښوي.)

۲- اسلام له ککړتیا څخه د نجات او مخنیوي لپاره حل لارې وړاندې کړي دی او مسلمانانو ته یې د هغو د عملي کولو او رعایتولو لارښونه کړې ده ، ځکه دغه انسان چې د ځمکې په سر د الله تعالی د خلیفه په توګه پیژندل شوی ، د اسلام له نظره باید په قوي روحیه ، ارام فکر او سالم بدن سره خپلې ورسپارل شوې دندې پر مخ بوزي، بی له شکه چې دغه ټول د سالم چاپیریال اړتیاوې دي ، ځکه بی له سالم چاپیریال نه انسان نشی کولای خپله مادي او معنوي سلامتیا وساتي.

سره له دې چې طبیعت او چاپیریال الله تعالی پیدا کړی او د انسان په خدمت کې دی ، خو کله دغه طبیعت سرکشي او طغیان کوي ، لکه طوفانونه اوباد ، اوبه ، زلزله، د ځمکې او غورځونه او داسې نورې پیښې، چې انسان له ویرې او ډار سره مخامخ کوي، نو له همدې امله انسان کوښښ کوي ، تر څو له دې پیښو او حوادثو نه د نجات په لاره کې کار وکړي ، پۀ لومړی قدم کې ځان خبر کړي، په داسې حال کې چې اسلام د نزول له

---

[1] سورت البقره، ۲۰۵ ایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل نه طبیعت معرفي کړی او د نسان لپاره یې تابع ګرځولی او همارنګه د طبیعت له مواهبو نه د ګټې اخیستې لارې چارې یې هم بیان کړي دي.

نو لکه څرنګه چې انسان نه غواړي خپل ښایست له لاسه ورکړي ، نه ښایي چې د طبیعت ښایست هم له لاسه ورکړي ، ځکه د طبیعت ښایست د انسان د ښایست د دوام د پاره کولو په خدمت کې دی او که دا کار ونکړي نو له ګواښ سره په مخامخ شي. الله تعالی د ټولو شیانو د پیدا ښت هدف او موخه یوائې د احد پرودګار عبادت ښودلی.

۳- هر کله چې مؤمن انسان غواړي د الله تعالی عبادت د خپل مکلفیت او د نعمتونو د شکرانې د اداء کولو په موخه کړي ، هیچا ته اجازه نه ورکوي چې مزاحمت یې وکړي او عبادت یې له ټولو ښکلاو سره چې غواړي سرته یې ورسوي ، مکدر کړی ، نو باید طبیعت او چاپیریال چې د الله تعالی د ښایست او عظمت منظر دی ، ککړ نه کړي. خو له بد ه مرغه انسان کله د بی خبرۍ له امله او کله په دیني لارښوونو د بې باورۍ له امله خپل طبیعت سره نامناسب برخورد او چلند کوي ، د طبیعت تعادل له منځه وړي او د هغه د بې نظمۍ او ګډوډۍ لامل ګرځي. اسلام ، اوبه ، چې د ژوند د چاپیریال له مهمو عناصرو څخه شمیرل کیږي ، داسې بیانوی:

(وَ جَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ )([1])

ژباړه: او له اوبو څخه مو هر شی ژوندي کړی ، آیا ایمان نه راوړي؟

(وَ هُوَ الَّذِيٓ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَأَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ )([2])

ژباړه: او الله تعالی هغه ذات دی چې له آسمان نه یې اوبه راورولی دي ، چې د هغو په وسیله مو هر ډول نباتات رازرغون کړي دي.

۴- هغه کسان چې اسراف کوي هغوی ته په ځمکه کې فساد کوونکي وایي:

په همدې شکل د چاپیریال ټولو عناصرو ته پاملرنه شوې ده ، که هغه اوبه ، هوا ، خاوره ، شینوالی ، حیوانات او داسې نور شیان وي.

---

[1] الانبیاء۳۰.

[2] الانعام۹۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرېزو ککړتیاو بدی هم بیان شوې او منع ترې شوې ده:

(وَ اقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَ اغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ)[1]

ژباړه: په تللو کې درمیانه اوسه او خپل غږ ښکته کړه، ځکه چې ناوړه غږ د خره غږ دی.

نو له همدې امله باید پارکونه جوړ او وساتل شي، وحشي باغونه باید د حیواني پانګې د ساتلو او حمایت لپاره جوړ شي.

د اسلام له نظره یوازې ښاروالی او د چاپیریال ساتنې مسؤلین مسؤلیت نه لري بلکې هر مسلمان او هر اوسیدونکی د چاپیریال په ساتنه کې مسؤلیت لري، چې په دې اړه عملی اقدامات وکړي.

لنډه دا چې د چاپیریال د خرابیدو لاملونه باید د ایمان او تقوا په رڼا کې له منځه یوړل شي، ځکه د یو شي په مقابل کې مبارزه کول چې د زړه له کومې او اخلاص سره نه وی او دیني ریښې ونلري، مثبتې پایلې ته نه شی رسیدلای.[2]

**دویم مطلب: په اسلام کې د چاپیریال ساتنې اړوند اقدامات**

په اسلامي لارښوونو کي تر فکر کولو وروسته معلومیږي، چې اسلام ډېر وړاندې د کائناتو چاپېریال ساتنه په نظر کي نیولې ده، داسې لارښووني ئې کړي دي، چي په هغو سره د چاپېریال له هر ډول زیانونو څخه ټولنه ژغورل کیږي او له هر ډول داسي شیانو څخه ئې منع فرمایلې ده، چي چاپېریال ککړوي او منفي پایلي ئې پر انسان او نورو موجوداتو پریوځي، دهغو شیانو د کولو تاکیدي امر ئې کړی دئ، چي د چاپېریال پاک ساتلو له پاره اړین دي. ځیني لارښووني په لاندي ډول دي:

---

[1] سورت لقمان ۱۹.

[2] عبدالجلال مقیم، د ژوند چاپیریال حقوق. ص۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ -پاکي او نظافت چي د روغتيا له پاره اړين دئ؛ د ککړتيا د له مينځه وړلو لـه پـاره پـاکي لازمـي ده، اسـلام د پـاکۍ ارزښـت پـه ډېـره لـوړه کچـه بيـان کـړی دئ، د مسـلمانانو شعار او پېژندګلوي ئې جوړه کړې ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلام فرمايي:

(إِنّ اللّهَ طيب يُحِبُّ الطِّيبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الْكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الْجُودَ، فَنَظِّفُوا بيوتكم، وَلاَ تَشَبّهُوا بِالْيَهُودِ التى تَجْمَعُ الأَكْنَافَ فِي دُورِهَا )[1]

ژباړه: الله تعالی پاک دئ او پـاکي خوښوي؛ مهربـان دئ، مهربـاني خوښـوي؛ سـخي دئ، سخاوت خوښوي؛ ځکه نو تاسي خپل کورونه پـاک سـاتئ او دهغـو يهـودو سـره ځـان مه مشابه کوئ چي د کور چتلي په کورونو کي جمع کوي.

همدا رنګه فرمايي) :تنظفـوا بکـل مـا اسـتطعتم ؛ فـان الله تعـالی بنـی الاسـلام علـی النظافة، ولن يدخل الجنة الا کل نظيف )[2]

ژباړه: تر کومه چي مو وس وي پاکوالی کوئ؛ ځکه چي الله تعالی د اسلام بنسـټ پـر پاکي ايښی دئ، او جنت ته به بې له پاک انسانه بل څوک داخل نه سي.

دارنګه اسلام پاکوالی د مؤمن پېژندګلوي ګڼلې ده، د چاپېريـال سـاتنه او د چټليـو په سبب پيدا کيـدونکي هـر ډول ککـړتيـا لـه مينځـه وړل ئـې د مـومن ور پـه غـاړه کـړي دي؛ ځکه پاکي د هر ډول ککړتيا د له مينځه وړلو له پاره لازمي ده.

۲ -لاري او نـور عـامـه ځايونـه پـه چټليـو ککـړول هـم د چاپېريـالي ککـړتيـا مهـم سـبب کېدلای سي.

رسول الله صلی الله عليه وسلام له دې څخه منع فرمايلې ده.

(اتقوا الملاعن الثلاث: البراز فی الموارد والظل وقارعة الطريق)[3]

---

[1] مثنى، احمد بن علي ابويعلى، (۱۴۰۰هـ)، مسند ابی يعلی، مکتبه: دارالمامون دمشق.ص:۷۹۰

[2] علاءالدين علی بن حسام الدين ابن قاضی خان ،(۱۴۰۱هـ). کنز العما ل ،الناشر مؤسسة الرسالة ،الطبعة الخامسة: ج۲ص۲۰۲

[3] قزوينی، للحافظ ابی عبدالله محمد ابن يزيد ابن ماجه، سنن ابن ماجه. تحقيق: محمد فواد عبدالباقی، دارالاحياء التراث العربی. چاپ کال نلري.حديث نمبر: ۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلام فرمايي: له درو لعنتي شيانو ځخه ځان وساتئ: قضايي حاجت په ګودر (له کوم ځای ځخه چي اوبه وړل کيږي ) سايه (هلته چي خلک کښيني ) او په لاره کښې.

که کوم چا دا تيروتنه کړې وي، نو ددې د له مينځه وړلو له پاره ئې د لاري ځخه مضر شی ليري کول د ايمان يوه برخه ګڼلې ده، مسلمانان ئې دې برخي ته چمتو کړي تر ځو لاري پاکي کړي. د رسول الله صلی الله وسلم ارشاد دی:

(من اماط اذی عن طريق المسلمين کتبت له حسنة ومن تقبلت منه حسنة دخل الجنة)([1])

ژباړه :چاچي د مسلمانانو له لاري ځخه ضرري شی ليري کړ، دده له پاره يوه نيکي ليکل کيږي او د چاچي يوه نيکي قبوله سوه هغه به جنت ته ځي.

په يو روايت کي ددې ثواب لس برابره ښودل شوی دي فرمايي:

(ان عاد مريضا او انفق علی اهله اور ماز اذی عن طريق فحسنة بعشر امثالها )([2])

ژباړه : چاچي د ناروغ پوښتنه وکړه، پر خپل اولاد ئې لګښت وکړ او يائې د لاري ځخه ضرري شی ليري کړ، دده نيکي لس برابره سوه

د لاري د پاکوالي سره د عامه ځايونو پاک ساتل هم شامل دي رسول الله صلی الله عليه وسلام په خپلو لار ښودنو کښې د چاپېريال پاک ساتلو حقيقي فضائل بيان کړي دي خلک ئې دې ته چمتو کړي دي، تر ځو په فکري ډول خپل د چاپېريال پاک ساتلو ټينګه اراده وکړي، ترځو چاپېريال له چټليو ځخه په مکمل ډول پاک وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلام له لاري ځخه ليري کېدونکي شي ته (اذی) ويلي، له دې ځخه معلوميږي چي يوازي مخصوص چټلي بايد له لاري ځخه ليري نه سي؛ بلکي لار بايد له هر هغه شي ځخه پاکه سي، چي د زيان رسوني سبب وي، هغه که په سترګو وليدل سي او يا هم ونه ليدل سي، په اوسني د تيلو په دوره کي چي کومه ککړتيا مينځته راوړي

---

[1] سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني.(۱۴۱۵هـ). المعجم الکبير للطبراني، دار النشر: مکتبة ابن تيمية – القاهرة: ۱۲۸۹۲

[2] ابن ابي شيبه: ابي بکر عبد الله بن محمد ، مصنف ابي شيبه. ناشر الکتب الاسلامي، طبعة الثانيه: ۲۲۸۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم تر دې حکم لاندې دي، ځکه نو هر موټر چلوونکی مکلف دئ تر څو د نوموړي له موټر څخه د لارې چاپېریال ککړ نه سي، دا د یو مسلمان مسؤولیت دئ، چې د ده موټر باید داسې حالت ته نه وي رسیدلی، چې چاپېریال ککړ کړي.

د انسان پر شا و خوا موجود ټول کائنات د الله تعالی مخلوق دئ، الله تعالی انسان په ځمکو، ځنګلونو، دریابونو، سیندونو او نورو ډول-ډول شیانو سره اباد کړی دئ، ځمکه ئې د انسان په واک کښې ورکړې ده، آسمان ئې پر انسان د هسک بام په ډول په ښکلو ستورو او سیارو سره ښایسته کړی دئ، تر آسمان لاندې ډکې وریځې د انسان داوبو اړتیا د تکمیل له پاره دي. پر ځمکه ډول-ډول مرغان، په دریاب کې ډول-ډول کبان او آبي حیوانات د انسان د خوراکي اړتیا تر څنګ چاپېریالي اړتیاوې هم پوره کړي دي، ټول کائنات د الله تعالی مخلوقات دي او په منظم او محکم حکم سره ئې خلقت سوی دئ، د الله تعالی ارشاد دی:

(صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ)[١]

ژباړه: الله تعالی هر شی په مناسب ډول مضبوط پیدا کړی دئ.

الله تعالی د هرشي د نوي خلقت په وخت کې د دې ځانګړتیا خاص خیال ساتلی دئ، چې نوموړی باید په ځمکه کې د انساني ژوند له پاره ګټور وي الله تعالی هرڅه په کمیت او کیفیت پوره پیدا کړي دي، په دې نړۍ کې د دوی دا دنده ده، چې د انساني ژوند د جسم او چاپېریال له پاره ګټور تمام سي، انسان ته په کار ده، چې په نوموړو سره د خپل صورت او چاپېریال ساتنه وکړي، تر څو په روغ صورت او ښه چاپېریال د الله تعالی په عبادت مصروف واوسي.

همدارنګه بل ځای فرمایي: وَالأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ[٢]

ژباړه: موږ ځمکه غوړولې ده او پر هغې مو غرونه اچولي دي او پر ځمکه مو هر ډول د اړتیا توکي په معلوم او منظم ډول ایښي دي.

---

[١] النمل: ٨٨
[٢] الحجر ١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معلوم او منظم ډول کائنات د انسان په چاپېريال کي موجود دي، په دوی کي فطري منظم والی، کميت او کيفيت پروت دئ ځکه نو د نوموړو کائناتو څخه پيدا کېدونکی چاپېريال هم فطري دئ او دا فطري چاپېريال د انسانانو او حيواناتو له پاره ګټور دئ او کله چي په فطري ډول پيدا سوي چاپېريال کښي انساني ککړتياوي ورګډېږي سي نو دالله تعالی په فطري چاپېريال کښي بدلون رامينځته کړي او د کائناتو چاپېريال غير فطري جوړسي نوموړی چاپېريال د انسانانو او ټولو کائناتو له پاره زيان رسوونکی وي ځکه چي غير فطري توکي ټول زيان رسوونکي دي.

په اوسني وخت کښي چي پر نقل عقل او پر معنويت ماديت غالب دئ، د ماشينونو او فابريکو دور دئ، په دې وخت کي د انساني ژوند ټول توکي بدل سوي دي، د انسان فکر او عمل ډول-ډول توکي اختراع کړي دي؛ ځکه نو ډېری مسايل چي وړاندي به د بحث وړ نه وه خو اوس دهغو بحث کول په کار دئ، له هغوی څخه يو هم د چاپېريالي ککړتيا (Environmental Pollution) مسئله ده.

دا دانسان په لاس رامينځته ته سوي حالات دي، انسان هغه مسؤوليت له پامه غورځولی دئ، چي د الله تعالی له خوا د نوموړي په غاړه ورکول سوی دئ، د الله تعالی ارشاد دئ) هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ) ([1])
ژباړه: هغه(الله تعالی) تاسي د ځمکي څخه پيدا او پر ځمکه اباد کړي ياست.

ددې آيات غوښتنه داده، چي الله تعالی انسان ته دا مسؤوليت ور سپارلی دئ، چي نوموړی دددې نړې د جوړېدلو کوښښ وکړي، دهغو شيانو څخه په پوره ډول پرهېز وکړي، چي د ځمکي دابادۍ او پر ځمکه دآبادو مخلوقاتو د ژوند او برياليتوب سره په ټکر کښي وي، که کوم داسي توکي پيدا سي، چي پر ځمکه د انسان او نورو ژونديو موجوداتو ژوند له خطر سره مخ کوي، انسان مکلف دئ چي نوموړي توکي له مينځه يوسي.

---

[1] هود: ٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم مطلب: د ځمکې ککړتیا د مخنیوي په اړه د اسلامي شریعت دریځ**

د اسلام مبارک دین انسان مکلف کړی ، چې تل د خپل عادی ژوند له بهیر نه ساتنه وکړي او هڅه وکړي چې ځان له هلاکت سره مخامخ نه کړي، الله تعالی فرمایی: (... ولاتلقوا بایدیکم الی التهلکة..)[1]

ژباړه: ( په خپلو لاسونو ځانونه مه هلاکوئ. )

د چاپیریال ککړتیا و په ځانګړي ډول د هوا ککړتیا سربیره پر دی چې د ځان هلاکت شمیرل کیږي ، په ځمکه کې فساد هم بلل کیږي ، چې الله تعالی ترینه منعه کړې ده ، الله تعالی فرمایی:

( ولاتفسدوا فی الارض بعد اصلاحها..)[2]

ژباړه: ( په ځمکه کې له اصلاح او سمون وروسته فساد مه کوئ )

دا ښکاره او منل شوی خبره ده ، چ د هوا ککړتیا خلکو ته ضرر رسول دی ، او الله تعالی نورو ته ضرر رسول منع کړی:

( والذین یوُذون المؤمنین والمؤمنات بغیر ما اکتسبوا فقد احتملوا بُهتانا و اثمًا مبینا )[3]

ژباړه : ای ځوک چې مؤمنو سړیو او مؤمنو ښځو ته بی له هغه ( ناوړه ) عمل نه چې وی کړی دی تکلیف رسوي ، په تحقیق سره ښکاره تهمت او ګناه یی بار کړی دی.

رسول الله صلی الله فرمایلی دی:

( الایمان بضع و ستون شعبة أو بضع و سبعون شعبة، فارفعها لا إله إلا الله ، أدناها اماطة الأذی عن الطریق )[4]

---

[1] البقرة ۱۹۵.

[2] الاعراف ۵۲

[3] الاحزاب ۵۸.

[4] محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التمیمي، أبو حاتم، الدارمي، مسند ابن حبان. دار الوعي – حلب رقم الحدیث ۱۶۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژياړه: ايمان او يا شعبې دي او تر ټولو ټيټه مرتبه يې له لارو د مضرو شيانو ليرې کول دي.

او د اذیٌ کليمه عامه ده چې ټولو مضرو شيانو ته شامليږي ، تيږې ،اغزو ته هم شامليږي او د هوا ککړتيا ته هم شامليږي.

**دويم مبحث: د چاپيريال په ساتنه کې د نړيوالو ميثاقونو رول**

د شلمي پيړۍ له نيمايي څخه دا يوه نړۍ واله مسئله سوله په(۱۹۷۱م) کې د چاپېريال دعلم مسئله د نړيوال سياست برخه جوړه سوه، په (۱۹۷۲م) کې ملګرو ملتونو په سويډن کې پر نوموړي موضوع لومړی سمينار جوړ کړی وو په (۱۹۹۷م)کې د چاپېريالي ککړتيا په وړاندي انساني مبارزه پيل سوه؛ ځکه د ککړتيا زيانونو ټوله نړۍ حيرانه کړې وه، د معاصري ټکنالوژۍ او پراخه صنعت په وجه ددې زيانونه تر اندازې ډېر سوه؛ ځکه نو نوموړې موضوع د حکومتونو د بحث او نظرياتو وړ وګرځېدل.

چاپېريالي ککړتيا هم د انساني لاس وهنو څخه پيدا ده، نوموړې موضوع د انسانانو د ډېربنت په سبب نه ده را مينځته سوې؛ بلکي انسان په نوموړي نظام کښي داسي تېروتني وکړې، چي پر ټول نظام ئې اثر ولوېدی، دبيلګي په ډول ورځ په ورځ د ځنګلونو شمېر کميږي، د يو راپور پر اساس د(۱۹۰۰م) وروسته په ايتوپيا کي (۹۰) سلنه ځنګلونه له مينځه تللي دي، دا ډول د خليجي جنګونو په وخت کي په سمندر کي د ګډو سوو تيلو په سبب د پيدا سوي آبي ککړتيا د له مينځه وړلو له پاره (۱۸۰) کلونه پکار دي. له دې څخه معلومه سوه، چي انسان په څونه لويه پېمانه ککړتياوي پيدا کړي دي؛ ځکه نو اوس د نوموړو ککړتياوو له زيانونو سره لاس او ګريوان دئ.(۱)

دا ډول د مځکي او فضا د ککړتيا له پاره د ډول -ډول آلاتو ايجاد او د هغوی د ازموينې تېروتني چاپېريال خورا ډېر ککړ کړی دئ، چي انسانان ئې په ډول-ډول ناروغيو اخته کړي دي. د عراق او کويټ د جنګ په وخت کي له (۷۲۷) څخه ډېرو څاګانو ته اور

---

(۱) خدايداد کوچی، چاپيريال ساتنه، ص ۷۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته سوی وو ، دیوې سروي له مخې د عراق په جنګ کې د جوړې سوي ککړتیا په سبب (۴۷۰۰ ) کسان د سرطان په ناروغۍ مړه سوي دي. (۳۵ ) سلنه عراقي نوي زیږېدونکي کوچنیان په دماغي سرطان اخته وي او دا شمېرنه ورځ په ورځ ډیریږي.

## لومړی مطلب: د ملګروملتونو د چاپیریال ساتنې سازمان

دویم نړیوال جنګ کوم چې په ۱۹۳۹م کال کې شروع او په کال ۱۹۴۵م کې پای ته ورسید ،د دې جنګ په دوران کې بیا له نړیوالو سره دا فکر پیدا شو ، چې باید په نړیوال سطحه داسې یو سازمان موجود وی، چې د جامعه ملل پر نسبت باندې قوي وي او د ټولو هغو نیمګړتیاوو څخه خالي وي کومې چې جامعه ملل درلودلې ترڅو په راتلونکي کې د دې جنګونو مخه ونیسي نو هماغه وو ، چې په کال ۱۹۴۵م کې د نړۍ د مختلفو سیاستمدارانو د کوششونو په نتیجه کې د ملګرو ملتونو سازمان رامنځته شو ، د دویم نړیوال جنګ په دوران کې د نړۍ د ځینو سیاستمدارانو له طرفه دا کوششونه شروع شول تر څو د جامعه ملل سازمان څخه په تجربې اخیستلو سره یو بل داسې مؤثر نړیوال سازمان رامنځته کړی چې ترڅو وکولای شي په آینده کې د دغسې نړیوالو جنګونو څخه مخنیوی وکړي، نو د دې مقصد د حصول په خاطر د دویم نړیواال جنګ په دوران کې ځینې کنفرانسونه د ملل متحد سازمان د جوړېدو په خاطر په مقدماتي ډول ترسره شو.(۱)

د ۱۹۴۱م کال د جون په ۱۲ نېټه ځینې هېوادونه (انګلستان، کاناډا ،استرالیا نیوزیلینډ ، جنوبي افریقا او همدارنګه د ځینو نورو جلاو وطنه حکومتونو نمایندګان د لندن ښار د (جیمس پیلس) په ماڼۍ کې سره راټول شول او یوه اعلامیه یې خپره کړه، د ۱۹۴۱م کال د اګست په ۱۴نېټه د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس (فرانکلن روزولت) او د انګلستان صدراعظم (ویستون چرچل) یو له بل سره د اتلانتیک په بحر کې په یوه بحري بیړۍ کې یو د بل سره ملاقات وکړ او بیا یې یوه معاهده یې امضاء کړه، د ۱۹۴۲م کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د متحدینو له خو ایا هغه هېوادونه چې په دویم نړیوال جنګ کې د المان په خلاف ولاړ وو او شمېر یې( ۲۶ )هېوادونو ته رسېده، د دغو هېوادونو

---

[1] ع، نبي بصیرت. او محمد جمال شینواری. (۱۳۹۸ل). نړیوال سازمانونه. یار خپرندویه ټولنه – جلال اباد. ص ۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نماینده ګانو له خوا په واشنګټن کې یو کنفرانس جوړ شو او یوه اعلامیه یې خپره کړه، چې په دې اعلامیه کې د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو یا ملل متحد د سازمان نوم یاد شو او وویل شو چې داسې یو سازمان باید ایجاد شي چې په راتلونکي کې د نړیوالو جنګونو مخه ونیسي او د دې ســـازمان نوم باید ملګري ملتونه یاملل متحدوي.(۱)

د ملګرو ملتونو کنفرانس هغه چې د بشریت د چاپیریال په خاطر په (۱۹۷۲م) کال کې په ستهاکولم کې دایر شوی وو چاپیریال یې داسې تعریف کړی:

(د هغو مادي او اجتماعي موادو چاره ده چې په میسر وخت کې په مشخص ځای کې د انساني حاجاتو لپاره صورت نیسي.)(۲)

په دې اړه چې مهم اقدامات شوي تر شلمې پیړې پورې اړه لري، په ۱۹۰۹ کال کې د بین الملل ګډه کمیټه د امریکا او کاناډا د سرحدي اوبو معاهدې پر اساس جوړه شوه، دغه کمېټه د لومړي بین المللی کمیسون په حیث له ککړتیا څخه د خوړو اوبو د کنټرول او ساتنې په موخه جوړه شوه، ددې کمیټې د جوړېدو اصلی لامل دا و چې اصولاً د بین المللی رودونو او دریابونو له ککړتیا څخه راوړلاې شوې ستونزې د ملی او داخلي اقداماتو له لارې حل کیدې او د نورو ذینفع هیوادونو مرستې ته هم اړتیاوه، د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې ځینې اقدامات ترسره شول، چې د هغو زیاتو ته یو اځې په نظامی چوکاټ کې پاملرنه وشوه. د دغو هڅو او اقداماتو له جملې څخه د نوربنرګ د محکمې جوړیدل و، چې یو اځې نظامي کارونه یې تر نظر لاندې وینلو، خو ځینې د چاپیریال مسائیل او جرایم چې د جنګ له امله منځ ته ورغلی وو هم تر بحث او څېړنې لاندې نیول کیدل، ځینې متهم کسان چې په دې متهم شوې وو چې هغوی له سوځیدلو ځمکو نه ګټه اخیستې او هغه د مخکنی شوروي ځمکې وي، چې د آلمان د قوتو له شاته تګ وروسته خالی شوې وي.(۳)

---

[1] محمدرضا ضیایي بیګدلي.(۱۳۸۴).حقوق بین الملل عمومي، انتشارات دانشګاه تهران، ایران. چاپ۲۲،ص۲۴۰

[2] فرج صالح عریش. (۱۹۹۸). د چاپیریال د ککړتیا جرایم. موسسه فنیه، لومړی چاپ، ص۲۳

[3] عبدالجلال مقیم. د ژوند چاپیریال حقوق. ص۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه په نړۍ کې د صنعت پرمختګ ته په پام سره د شپېتمې میلادي لسیزې په لومړیو کې د چاپیریال ساتنې موضوع د نړیوالو مسایلو په سر کې راتله، همدې ستونزې ته په کتو عمومي اسامبلې په ۱۹۲۸م کال کې په لومړي ځل د چاپیریال ساتنې نړیوال کنفرانس جوړ کړ، ورپسې په ۱۹۷۲م کال کې د سویډن په پلازمینه استکهلم کې د نږدې (۱۱۰) هېوادونو او (۱۲۰۰) برخه والو په ګډون یو ستر نړیوال کنفرانس تشکیل شو د کنفرانس په پای کې د (بشر د چاپیریال ساتنې نړیواله اعلامیه) خپره شوه چې د چاپیریال ساتنې په برخه کې لومړنۍ نړیواله بیانیه ګڼل کېږي. په اعلامیه کې د هېوادونو ترمنځ د چاپیریال ساتنې په برخه کې د ټینګار تر څنګ له ګډون کوونکو هیوادونو څخه وغوښتل شول چې د نړیوال چاپیریال ساتنې په موخه لازم اقدامات ترسره کړي او د نورو چاپیریال ته له زیان اړولو دې په کلکه ډډه وشي.

په کنفرانس کې همدغه راز د ژوند د حفاظت او د هوا ککړتیا د مخنیوي په موخه په ۱۰۲ مو مادو کې یوه عملي کړنلاره تصویب شوه له یاد کنفرانس وروسته په ۱۹۷۲م کال کې د ملګرو ملتونو د چاپیریال ساتنې سازمان رسماً پرانیستل شو. د ژوند چاپیریال څخه د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو پروګرام، د ژوند نړیوال چاپیریال څخه د ساتونکي په عنوان مرکز د افریقا لویېوچې په کینیا (هغه هېواد چې د یو متنوع ژوند چاپیریال تر ټولو غني او بهترینه نمونه ګڼل کېږي) هېواد کې دی دا پروګرام د ملګرو ملتونو د سازمان په چوکاټ کې یوه طرحه شوې اداره ده چې دنده یې په سیمه او نړیوالو کچه د ژوند چاپیریال ستونزو ته رسیده ګي او پاملرنه ده، ددې پروګرام په اساس د ژوند چاپیریال مسایل او هغه تهدیدات چې ورته متوجه دي نړیوالې ټولنې او دولتونو ته یې یادونه کېږي او په ځانګړې ډول د ژوند چاپیریال د حفاظت او پراختیا ترمنځ داړیکې لپاره معقول سیاستونه مطرح کېږي. د ژوند چاپیریال څخه د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو پروګرام هدف د ژوند چاپیریال ساتنې لپاره همغږي رامنځته کول دي، همدارنګه دغه اداره د نړۍ خلکو او دولتونو ته د اطلاع رسولو مرکز او د هغوی د ژوند د سطحې لوړولو وسیله ده پرته له دې چې راتلونکو نسلونو حقوقو ته صدمه ورسېږي. یا په بل عبارت نوموړې اداره داسې یو ارګان دی چې د ژوند چاپیریال څخه د ساتنې او دوامداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراختیا مدافع بلل کېږي، دا اداره د خپلو اهدافو د تحقق لپاره علاوه همکارو او مرستو، د ملګرو ملتونو، نړیوالو سازمانونو، دولتونو، غیر دولتي سازمانونو، خصوصي سکتورونو او مدني ټولنو سره عملي اقدامات هم ترسره کوي.(۱)

## دویم مطلب: په جنګي برخه کې د چاپیریال ساتنې نړیوال معاهدات

د یونسکو او هوا پېژندنې نړیوال سازمان، چاپیریال ساتنې نړیوال سازمان (UENP) په ۱۹۷۲ میلادي کال کې تاسیس او مقر یې د کینیا مرکز نیروبي کې دی د یو شمیر نورو موسیسو په همکارۍ سره په ځینو لویو ښارونو کې د هوا د ککړونکو موادو غلظت د دوامدارې څارنې لپاره یو لړ فعالیتونه سرته رسولي دي او د هوا د ککړتیا پر ضد اقدامات سیاسي او اقتصادي مسایل یې همیشه د یو ځانګړي اهمیت لرونکي دي د هوا ککړتیا مسألې ته په وروستیو کلونو کې توجو شوې ده ځینې ماهیرین په دې عقیده دي چې ویل کېږي د تهران ښار دنړۍ د ککړو ښارونو څخه دی چې د تهران او سیدونکي په ځانګړي ډول ماشومان په ډول ډول ناروغیو لکه: د سږو انسداد، مزمن برانشیت او د سږو له سرطان سره مخامخ دي چې ډېر زیات یې په نارینه و کې معمول دی، دا یو ښکاره حقیقت دی چې یو ښار له دریو خواوو څخه د البرز غرونو احاطه کړې په یوه ورځ کې ۵۲۰۰ ټنه سلفردای اکساید، ۱۹۰ ټنه معلق ذرات او ۵ ټنه سرب په هوا کې خپریږي دغه ککړونکي مواد تر ډېره حده د ستندرد حالت څخه زیات دي.(۲)

د نړیوالو معاهداتو په برخه کې د هغه معاهداتو یادونه کوو چې په نړیواله کچه لاسلیک شوي وي نو د نړیوال انساني قانون قواعد که څه هم چې د مسلحانه شخړو څخه وروسته د انسان حمایت کوي مګر د انسان او چاپیریال ترمنځ اړیکه شلول امکان نه لري په همدې بنیاد هغه حمایت چې د انسانیت لپاره د مسلحانه شخړو مهال وضع شوي لازمه ده چې په پراخه معنی سره وپېژندل شي ځکه دا سربېره د انسان په حمایت د هغه چاپیریال حمایت هم کوي چې انسان هلته ژوند کوي، دا په دې اعتبار چې په شخړو کې د مترقي

---

[۱] عبدالجلال مقیم، د ژوند چاپیریال حقوق. ص۹۲

[۲] خدایداد کوچی، چاپیریال ساتنه، ص ۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسایلو کارول ددې لامل گرځي چې انسان او هغه چاپیریال ته ضرر ورسوي چې انسان هلته اوسېږي، په دې اساس نړیوال انساني قانون د تیرې پېړۍ د اومې لسیزې تر لومړیو پورې به یې د بشریت په تقلیدي برخې ترکیز کاوه که دغه عمل په هماغه چوکاټ پورې تړاو درلود او که یې د څیړنې په ډگر پورې درلود ، په همدې بنیاد چاپیریال په دې صفت سره د نړیوالو انساني قوانینو کې نه دی ذکر شوی. (ځکه هغه مهال چې د چاپیریال مفکوره نه وه ښکاره شوې ) مگر ددې سره سره یې یو شمېر احکام د چاپیریال ساتنه کوي:

۱- هغه معاهدات چې د وچې د جنگ په عاداتو او قوانینو پورې تړاو لري، په دې برخه کې د ۱۹۰۷م کال د لاهې څلورمه معاهده د یادولو وړ ده.

۲- د لاهې د ۱۹۰۷م کال هغه معاهده چې په سمندرونو کې د ماینونو د خښولو په اړوند لاسلیک شوه.

۳- د بکتریالوژي د سلاح تولید او کارولو ممنوعیت او دهغې له منځه وړل په ۱۹۷۲م کال کې بله معاهده د هغه تشې لپاره رامنځته شوه چې مخکې پروتوکول ورته اشاره نه وه کړې او هغه په کال ۱۹۲۵م کال ترسره شوې وه.

۴- د خانقه او زهرجنو گازونو د منعې په اړوند پروتوکول او دې ته ورته نور مکروبي وسایل چې د جنگ په وخت کې ورڅخه کار اخیستل کېږي، د جینوا د ۱۹۵۳م کال معاهده په نړیواله کچه ټول خانقه او زهرجن گازونه حرام وبلل شول دې ته ورته نور مشابه گازونه یې هم ناسم وگڼل.[۱]

[۱] عبدالجلال مقیم. د ژوند چاپیریال حقوق. ص۱۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

چاپیریال هر هغه څه ته وایي چې بشر یې احاطه کړي وي. که هغه جمادات دي لکه: اسمانونه، ځمکې، غرونه او نور... همدارنګه د چاپیریال ساتنې حقوق د هغه قواعدو او پرنسیپونو له مجموعې څخه عبارت دي چې د انسانانو د فعالیتونو او کړنو تاثیر پر چاپیریال باندې تر څېړنې لاندې نیسي. اشخاص باید متوجه شي ترڅو داسې اعمال چې هغه د عامه وګړو د ځورونې او یا د ژوند د چاپیریال د ککړېدو سبب شي چې باید ځان ترې وساتي ترڅو چاپیریال ککړ نه شي او وګړي په سمه توګه ژوند ته دوام ورکړي چې د هغې له جملې څخه د بخار، لوګي ناولې اوبو له مخې چاپیریال ککړ شي ذکر شوي.

اسلام د چاپیریال د اساسي عناصرو د ساتنې او یو مسلمان او سیدونکي د دندې په اړه ارزښتاکه اصول او کلیات وضع کړي دی ، او په ځمکه او چاپیریال کې له فساد سره د مبارزې لپاره یې ځانګړي اسالیب ښودلی دی. اسلامي شریعت داسې لار ښوونې ئې کړې دي، چې په هغو سره د چاپېریال له هر ډول زیانونو څخه تولنه ژغورل کیږي او له هر ډول داسې شیانو څخه ئې منع فرمایلې ده، چې چاپېریال ککړوي او منفي پایلې ئې پر انسان او نورو موجوداتو پریوځي، دهغو شیانو د کولو تاکیدي امر ئې کړی دئ، چې د چاپېریال پاک ساتلو له پاره اړین دي.

د نړیوالو میثاقونو له مخې د چاپیریال ساتنې لپاره د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې ځینې اقدامات ترسره شول، چې د هغو زیاتو ته یوائې په نظامی چوکاټ کې پاملرنه وشوه. د دغو هڅو او اقداماتو له جملې څخه دنوربنرګ دمحکمې جوړیدل و ، چې یوائې نظامي کارونه یې تر نظر لاندې وینو، خو ځینې د چاپیریال مسائیل او جرایم چې د جنګ له امله منځ ته ورغلی وو هم تر بحث او څیړنې لاندې نیول کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه

۱. چاپیریال چې د وګړو د یوې مجموعه کې د اشخاصو د اوسیدو او د وګړو ترمنځ د تګ راتګ او د هغوی د مجموعي څخه عبارت دی نو پکار ده چې وګړي د چاپیریال په روغ ساتلو کې یو له بل سره مرسته او همکاري وکړي.
۲. د ژوند چاپیریال لپاره چې کوم اعمال ضرر رسوي باید وګړي ترې ځان وساتي، ترڅو مو ټولنه سالمه او وګړي مو په سالمه فضا کې ژوند وکړي.
۳. یو شمېر هغه اعمال چې د ټولنې او د ژوند د چاپیریال په تاوان وي او اشخاص یې په قصد سره اهمال کړي باید سزا ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

القران الکريم

**الف: کتابونه**


۱. ابوعبدالله محمد بن اسماعيل البخاري. (۱۴۲۱). صحيح البخاري بيروت: دارطوق النجاة.

۲. ابـن ابـي شـيبه: ابـي بکـر عبـدالله بـن محمـد ، مصـنف ابـي شـيبه. ناشـر الکتـب الاسلامي، طبعة الثانيه.

۳. احمد مختارعبدالحميد عمر، (۲۰۰۱م). معجم اللغة العربية المعاصره. قاهره: عـالم الکتب.

۴. إبراهيم محمد الجرمي،(۱۴۲۲هـ). معجم علوم القرآن دار القلم، دمشق، اول چاپ يو جلده.

۵. بصـيرت، ع، نبـي او محمـد جمال شـينواری. (۱۳۹۸ل). نړيـوال سـازمامونه. يـار خپرندويه ټولنه – جلال اباد.

۶. حامد انصاري. (۱۴۳۰). د اسلام حکومتي نظام. ژباړن: صافی، حبيب الله. پيغـام خپرندويه مرکز – پېښور.

۷. خدايداد. کوچی، (۱۳۹۵). چاپيريال ساتنه. جلال اباد: سلام خپرندويه ټولنه.

۸. زرکشـي محمـد بـن عبـدالله بدرالـدين بهـادر( ۱۴۰۲هـ). البرهـان فـی علـم القـرآن. بيروت، داراحياء التراث العربی.

۹. ديوبنـدي محمودالحســن او شـبيراحمد عثمــاني. (۱۴۱۴هــ). کـابلی تفسـير. د افغانستان د جيدو علماوو ژباړه، د فهدبن عبدالعزيز د قرانکريم چاپخانه مدينـه منوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰. سید ابو الاعلی مودودي، (۱۳۶۰). تفسیر تفهیم القران. ژباړن: قیام الدین کشاف. پېښور: جماعة الدعوه.

۱۱. سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني.(۱۴۱۵هـ). المعجم الكبيرللطبراني، دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة.

۱۲. سيد عنايت الله شاداب. (۱۳۹۵). د اسلامي حقوقو بنسټونه. مستقبل خپرندويه ټولنه – کابل.

۱۳. عبد الرؤف ننګيال، (۱۳۹۳). د اسلام حقوقي نظام. مستقبل خپرندويه ټولنه – کابل.

۱۴. عبد الغفار صافی، (۱۳۹۷). قرآن پوهنه، سلام خپرندویه ټولنه – جلال اباد.

۱۵. عمید حسن. (۱۳۷۲). فرهنګ عمید یو جلده. انتشارات امیر کبیر تهران.

۱۲. عبد الجلال مقیم، (۱۳۹۷). د ژوند چاپیریال حقوق. جلال اباد: لیکوال خپرندویه ټولنه.

۱۷. علاءالدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان ،(۱۴۰۱هـ). كنز العما ل ،الناشر مؤسسة الرسالة ،الطبعة الخامسة.

۱۸. فرج صالح عریش. (۱۹۹۸). د چاپیریال د ککړتیا جرایم. موسسه فنیه، لومړی چاپ.

۱۹. قزوینی، للحافظ ابی عبد الله محمد ابن یزید ابن ماجه، سنن ابن ماجه. تحقیق: محمد فواد عبد الباقی، دارالاحیاء التراث العربی. چاپ کال نلري.

۲۰. محمدرضا ضیایي بیګدلي، (۱۳۹۲ل). نړیوال عمومي حقوق، ژباړن: حکیمزی، حسیب الله. مستقبل خپرندویه ټولنه – کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱. محمد مصطفی نیازی، (۱۳۹۲ل). نړیوال معاهدات (د اسلامي فقهې او نړیوالو اصولو په رڼا کې). مسلم خپرندویه ټولنه – جلال اباد.

22. محمد رضا ضیایی. بیګدلي، (۱۳۸۷ل). حقوق معاهدات بین المللي. ۳۳ چاپ، نشر ګنج دانش: تهران، ایران.

۲۳. مثنى، احمد بن علي ابو يعلى، (۱۴۰۰هـ)، مسند ابی يعلى، مکتبه: دارالمامون دمشق.

۲۴. محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، مسند ابن حبان. دار الوعي – حلب.

۲۵. نورانور. فاروقي، (۱۳۹۷). د چاپیریال ساتنې حقوق. جلال اباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

**ب: قوانین**

۲۶. د عدلي وزارت رسمي جریده. (۱۳۸۵). د ژوند چاپیریال قانون، پرلپسې ګڼه: (۹۱۲). کابل: دولتي مطبعه.

۲۷. د افغانستان اسلامي جمهوریت، د تقنیني اسنادو د انفاذ او خپراوي د ډول قانون، (۱۳۹۵ل). پرله پسې ګڼه:(۱۲۴۲)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**